ليکونکی: میلیس ایلیوت(Miles Elliot).
منبع او دخپریدو نیټه : ګلوبال ریسرچ « 2017-07-06».
ژباړونکی: پوهندوی دوکتور سید حسا م «مل».

---

# دافغانستان جګړه دامریکي دمتحده ایالاتودجنګونو په تاریخ کي له یاده وتلي اوږده جګړه اما لا له مینځه نه دي تللي

*Afghanistan,the longest war in US history: Forgotten ,but not Gone*



ښکاره انځور: دا فغا نستا ن د کونړ په ولایت کی د ا مریکی د متحده ایالاتو دیوخ دپلی ځواک چترباز«لورینس ویر( Lorenzo ware) منبع ( wikicommons)

په ا فغا نستا ن کي جګړه دامريکي دجنګونو په تا ريخ کی ترټولو اوږده جګړه ده . چي اوس خپل شپا ړلسم کلنی (یا دامریکی دمتحده ایالاتو تر دریم اولسمشر پوری) ته رسیږي. ممکن دي چي دجګړي تمه کیدونکی تمه ولري چي دا جګړه به زر ختمیږي حال داچي طالبانو بیا له سره راپورته شوی اودعراق وسوری اسلا می افراطی دولت (ISIS) په افغانستان کی دخپل شتون او موجودیت ادعا کوي ، دامریکي د متحده ایالاتو جمهور ریس دونالد ترومپ په دی تا زه وختونو کی ددی جګړی د ځارني او د تعقیبولو د چاري واک پنتاګون ته ورسپا رلي کوم چي اوس د پنتا ګون لوړپوری چارواکي داسی پریکړه کړي چي په افغا نستا ن کي دامریکی د متحده ایالاتو اود **نا تو** اضافی سرتیری ځای پرځای کړي نو دهمدی پریکړي په رڼا کی د امریکي د متحده ایالاتو د دفاع وزیر **(جیمس ما تیس)** سره دامریکی دملی امنیت مشا وربناغلی **(مک ما ستر )** ددی جګړی د لمن دلا غځولودپا ره په یوه نوی تهاجمی ستراتیژی باندی کا رکوی کوم چي ددغه تولو

اقداماتو څخه داسي را په ګوته کیږی چي د دغي جګړي دپای او د ختمید و د پا ره کوم یو روښا ن دلیل او نښی نه تر سترګو کیږي .
که څه هم نورجنګونه په تیرو وختونو کي دهمد ی ورته بڼی په توګه ادعا شوی ، اما د افغانستان دغه اوسني روانه جګړه د ډیرو کسا نو له خوا د یو(هیرشوی جګړي) په نوم نومول شوی،حتی دهغوکسا نو له خوا کوم چي د زرګونو امریکایی سرتیرو اودافغانستان د ډیروخلکو دمړیني مسولیت یي پرغاړه لرل ، چي دا پخپله دعمومی پوهاوی یا دعامه شعور دمخکښتوب په نظر کی نیولو سره دعمومی چاپیریال په لړ لید کی بی له یو مبهم داغ (لکه) بل شی نه دي.
له نن څخه «نه» کا له د مخه یعنی د جولای په میا شت کا ل (۲۰۰۸) کی (PBS) د خپل خبرنګا ر په لاس یو وید ویي ګذارش کوم چي هغه خبرنګار په افغانستان کی دامریکایي ځواکونو سره یوځای میشته وه نشرته وسپارل – حتی وروسته له هغه چي جورج دبلیو بوش دسپیني مانی دبیضوی اداری څخه خپل ښپی را سپکی کړی دغه ویدو دافغانستان د «هیر شوی جګړي» د فلم په نوم سره یا دیده او بیا له (۸) کالونو څخه وروسته په کال (۲۰۱۶) کی دجمهوری ریا ست دټولټا کني په سیا لی اومسابقه کی لاس انجلس تایم دافغانستان ددی هیر شوی جګړی تر عنوان لاندی یو مقا له خپورکړ کوم چي د مقا لی لیکونکی په دي مقاله کي داسي په ډاګه کړ « چي نه هیلاری کلنتون اونه هم دونالد ترومپ دخپل انتخاباتی سیالی او مبارزی په وخت کی حتی دافغانستان څخه نوم هم وانخیستل او دافغانستان د ستونزي څخه خپل ناراحتی په هیڅ بڼی سره ونه ښودله» .
دونالد ترومپ له یوی خوا دامریکی دمتحده ایالاتود(۲۰۱۶) کال دټولټاکي په وخت کي د خپل انتخا با تي مبارزی په موده کي پرافغانستان باندي دامریکي پرمداخله اوتهاجم باندي نیوکي کول اودبلی خوا څخه حتي چي هغه یعنی دونالد ترومپ مخکی د هغه چي خپل ځان دامریکي د جمهوری ریا ست مقام ته نوما ن کړي هغه دخپل تلپا تي عادت په لرلوسره پخپل تویترکي د(اوباما)اداره دافغانستان دجګړي ددوام دپاره هڅولي .
هغه یعنی دونالد ترومپ یووخت پخپل **تویټر** کی داسی لیکلي وه : راځی چي له افغانستان څخه راووځو، اودا ځکه چي زمونږ سرتیري د هغه افغا نا نو پواسطه سره کوم چی هغوی ته مو روزنه ورکړي دي وژل کیږي اومونږ هلته په ملیونوډالر په مصرف ورسول .ایا دامریکی بیا جوړونه په دي ډول مزخرافا تو اوبیبا کی سره ممکن دي؟ *[Donald Trump @realDonald Trump January 11, 2013]* .
اما د دونا لد ترومپ دغه تویتری لیکنه (اوباما) له خپل هوډه ونه ګرځول او هغه خپل وعده کوم چی دامریکی ځواکونه دکال (۲۰۱۴) په پای کي له افغانستان څخه راباسی همغسی وکړاودجنوری په میاشت کال (۲۰۱۷)کي له سپیني ما نی څخه دخپل ماموریت

دختمیدو په راوتلو سره په افغانستان کی یواځی (۸۴۰۰) سترتیری پرینسود کوم چي لاتراوسه دغه (۸۴۰۰) پوځیا ن په افغا نستان کی مستقر دي .دحیرانتیا خبره دلته دادي چي دونالد ترومپ لا تراوسه ولی اودخه د پاره خپل ځان د معکوسی یا د راګرځولي دوری (reversing course) څخه نه رابا سي ، اوپه افغانستان کي د ا مریکي د متحده ایالاتو دنبکیلتیا په روند کي دخپل اضافی سرتیرو دلیږدولومشری اودندی ترسره کوی.

حال داچي اوس د ا فغا نستا ن زیا تی برخی اوسیمی دامریکی دمتحده ایالاتو د کال (۲۰۰۱) دیرغل دوخت په پرتله سره دطا لبا نو ترولکی اوتصرف لاندي پریوتي دي.

اودبلی خوا څخه هغه څه چي دتعجب وړ خبره ده هغه دادي چي دهمدی (۱۶) کالو په موده کي دډیرو هلو ځلوسره سره نه یواځی داچي طا لبا نو ورک نشو بلکه داعش هم راپیداشو.

## یوناڅاپه ځواکمنتیا یا مخ په وړاندی خوځښت - (Surge:4,0): دتیروڅو

اونیو راهیسي دامریکي دمتحده ایالاتو اصلی رسنی یو لړ راپورونه دپنتاګون دپریکړي په مورد کی کوم چي افغانستان ته یوشمیر نوراضا فی سرتیري لیږی تبصری او لیکنی کوي ګرچه د(۴۰۰۰) اضافی سرتیرو افغانستان ته د لیږلو آوازی تر غوږو را رسی مګر لاتراوسه ددی اضافی سرتیرو دلیږلو په ا ړین دا مریکی د مسولو مقا ما تو له خوا کوم رسمی اعلامیه نه دي ورکړشوی او هم دافغانستان د روانی کشا لی په اړین لا نوی ستراتیژی جوړ او تدوین شوی نه دي اما داسي ګونګسی اوریدل کیږی چي دغه نوی تها جمی ستراتیژی د جولای د میا شتی په نیمیا یی کی به رسماُ اعلام شي – نوددی پورتنیوڅرګندونو څخه داسی را معلومیږی چی افغانستان ته نور زیات اضافی سرتیری استول کیږی کوم چي دهغه (۸۵۰۰) سرتیری سره چي په افغانستان کي دی یوځای شي – همدارنګه **د نا تو** دتړون د(۲۹) غړو هیوادونو له جملی څخه تراوسه دهغه پیمان (۹) غړي موافقه کړی چي خپل اضا فی سپاهیا ن افغانستان ته ولیږی ترڅو چي **دنا تو** دمځکینی (۵۰۰۰) میشتو سرتیروسره یوځای شي- دیادولومهم ټکي دادي چي( دامریکی دمتحده ایالاتو اود **نا تو** میشته اومسقر شوی سرتیری په افغانستان کی جنګی ماموریتونه نه تر سره کوي بلکه یواځی دافغانستان امنیتی ځواکونه روزي ) .

اوس دلته د مشاهده کونکو ناظرانو او د اطلاع رسونکو غړو او رسنیو تر مینځ یوډول جدی درز او اختلاف رامینځته شوی اوهغه داچِي آیا دا یو څو زره اضا فی سرتیری وبه شی کړی چی هلته په افغانستان کی داوضاعو په روند کی کوم قا بل دملاحظی بد لون راولي – نودهمدی اصل په نظرکی نیولو سره دامریکی دپوځ پخواني تجربه لرونکی مرستیا ل جنرال جیک کین (Jack Keane) وروسته د(۴۰۰۰) اضافی سرتیرو دلیږلو له وړاندیز څخه په خبریدو سره داسی یادونه وکړ چی دافغانستان دروانو حالاتودیو څه بدلون د پا ره کم ترکمه له (۱۰۰۰۰) څخه تر (۲۰۰۰۰) سرتیرو دلیږلو

ضرورت لیدل کیږی کوم چی دهمدی وړاندیز سره په ورته بنه په تیرو څو ورځو کی د(سی آی ای) مخکینی مشر او ددفاع وزیر **لیون پنیتا (Leonpanetta)** په رغنده بنی سره وویل چی ددغه (۴۰۰۰) اضا فی سرتیرو په لیږلو سره په افغانستان کی به هیڅکله حالات بنه نشي او یا د هیڅ ډولو حالاتو د بدلون انتظار با ید ونه ایشتل شی همغسی چي **د نی سجورسین** ( danny Sjursen) د همدی شکتنی مقا لی لیکونکی څرګندوي : دا څلورم ځل دی چي ا فغا نستا ن ته داضا فی سرتیرو دلیږلو موضوع له سره تکرارکیږي او هغه دا چي دری ځلی مخکی په ورته بنی سره د ( ۲۰۰۸ ) او (۲۰۱۰) کلونو په واټن کی( بوش) او «اوباما» په افغا نستا ن کي دسرتیرو په شمیر کی زیاتوالی راوړی وه . نو دهمدی اقداما تو په نظر کی نیولو سره داسی جوته کیږی لکه هغسی کوم چی **جورج دبلیو بوش** په ا فغا نستا ن کی په جنګ لاس پوری کړ (دبوش دجګړی پیل )اوجګړه له همغه وخت پیل شواواوس همدغه جګړه دبوش دجګړی دپیل دوام دي کوم چی دامریکی د متحده ایالاتو د جمهورو ریسا نو له خوا تصویب او ترسره کیږی یعنی دغه دری کلیدی جمهور ریسا نو ددی جګړی تر شا خپل نقش لوبوی دلته اساسی پوښتنه دادی چي دامریکي دمتحده ایالاتو دولت له هیڅ ډول هڅی اواند څخه ددی جګړی ددوام په اړین نه ترشا کیږی اوحتی تردی حده پوری خپل نقش لوبوی چي غواړی حتی په دی جګړه کی بری هم ترلاسه کړي ؟

له یاده مو باید ونه ایستل شی او هغه داچي دامریکی دمتحده ایالاتو اصلی اوعمده ټولنیزرسني (مید یا) په کا ل(۲۰۰۷) کی د جنرال دیوید پټریوس (David Petraeus) د نظریا تو دواک اود قدرت تراغیزی لاندی پریوتي وه او دهغه یعنی دجنرال پټریوس ددی نظریی یا ددی مفکوری د لمن چټک خپریدل د شخړیزټولنیزرسنیو(مید یا) پواسطه سره دیوی خوا اودبلی خوا د جورج بوش نقش او ونډه د ستراتیژی په تبلیغ کی هغه مساعد کونکي فکتورنه وه کوم چي وروسته له هغه جنرال پټریوس بیا دخپل با ور په تر لاسه کولو کی دکوم رغنده ستونزی سره مخا مخ نشو .

له دی نه چي په عراق کی هغه مخکینی طرح کړشوی هدفونه لکه د سنی ، شیعه اودمیشتو کردانوترمینځ پخلاینه اودمذهبی فرقو ترمینځ دتاوتریخوالی په له مینځه تلوکی دمعتبرو ځواکونو دتلپاتي هلو ځلوسره سره بریالیتوبونه تر لاسه نشو نو په دي وخت کی دامریکی متحده ایالات په ډیر بیتا بی اولیوالتیا سره مخکی له هرڅه نه لمړی دعراق په چارو کی په مداخله او لاس وهنو پوری کړ چی دهغه پایله د (ISIS) د رامینځته کیدو سبب شو دلته دپام وړ ټکي دادي چي په عراق کی دیونوی جذاب او د یو ډول تبلیغاتی محصول د با زار میند نی دبریالیتوب ډنډوری غږ را پورته کیږی کوم چی دواقیعت د څرګند ولو دپا ره ډارونکی ده لکه هغسی چي بوستون ګلوب (Boston Glob) په دی هکله داسی وایي :

« دامریکا یا نو د پا ره د سمد ستی بریا لیتوب د استا ن ډیر په زړه پوری اوآرام ښونکی وي اوداځکه چي دا د کنترول یو بریا وی سا تي – دغه جګړه ،عراق دیو څه پرته اویا غیر جیوستراتیژیک اشتباه تر عنوان لاندی په خطرکی اچوی اوزمونږ هڅی او اند دیو بن بست ترعنوان لاندی ګوری، سربیره پرهغه دغه موضوع داسی یومفهوم ته قوت وربښی چي که چیری یواځی نظا می ځواک په صحیح بڼی سره ځا ی پر ځای شی ممکن دي چی د نړی په روانو حالاتو با ندی یوڅه تا ثیر وغورځوی داهغه قصه او داستان دی کوم چی په دی اوسنی ماموریت کی عراق بریالیتوبونو ته رسوی.»

اوس افغا نستا ن دعراق ځای نا ستي : یوله ډیرغمیز او بوږنونکي احتمالاتو څخه دادي چي ا فغا نستا ن د یولږ نظا می عملیا تونو دسرته رسولو دپا ره په یو ډول دچوچه کشي (incubitor) په ما شین باندي اغوښتی دي چي دغرب پواسطه ورڅخه ګټه ترلاسه کيږي اوپه عین وخت کی یوله هغه ډیرضروری نیازمندی کوم چي (ناتو) اودامریکي متحده ایالات خپل حضور اوموجودیت دلته لازم ګڼی هغه دادي چی امریکي او «نا تو» خپل سرتیرو ته دواقعی ژوند روزنه اوتجربی ورپه برخه کوی اوهم په دی هیواد کي دخپل رنګارنګ سلاحګانو اودنظامی تجهیزلتو یولړ ازما یښونه ترسره کوی اودوخت په تیرید و سره د مختلفو هیوادونو دیوشمیر قا بل د ملاحظی سرتیروته دستاژ اودعملی جنګی فعالیتونو زمینه ور برابروی ترڅو چي بیا دغه هیوادونه ددی جوګه شي چی د یو لړ قوی تجربی د ترلاسه کولو په رڼا کي خپل مختلف سلاح ، بمونه ، جنګی مهارتونه وازما یی دیا دونی وړ مطلب دادی چی ددی پورتنی تذکراتو څخه ښاغلی **دنی سورجسن** (Danny Sjusen) هم پخپل مقا له کي یا دونه کړی دي.

په دي وروستیو کی یو لړ رتبه افغان چا رواکی د امریکی د متحده ایالاتو د تر ټول غت بمو دغورځولو په اړوند چي په افغا نستا ن کی د امریکا یی نظا میا نو پواسطه سره وغورځول شو خپل اند ییښنه داسی په ډاګه کوی او وویل چي آیا یواځی دا زمونږ خا وره او هیواد دی چي غربیا نو اوپه سرکی امریکا یا نو د خپل بمونو د غورځولو از مایښونه دلته تر سره کوی ؟

نو که چیری داسي وی نو په هغه صورت کی غربی هیوادونه یو جنګي تیا تر ته ضرورت لری کوم چي په اوږد ، نه ختمیدونکي ، پراخه او اوږدونکی شخړی سره متصف وی ترڅو چي د پراخ نظا می صنعتی کمپنیو تنده او اړتیا وی ترسره کړي نو ددی توضیحا توسره په مطا بقت کی افغانستان هغه ځای دی چي دنظامی صنعتی مجتمع هیلی او هدفونه ښه تر سره کولای شی.

بوناقص اوغلطه ستراتیژی : **ګریت پورتر** (Gareth Porter) آزاد خبریال په دی وروستیو کی یو مقاله نشر ته سپارلی اوپه هغه کی داسی به ډاګه کړی چي دامریکي د متحده ایالاتو ستراتیژی دافغا نستا ن دپاره یوه ناقصه او وژونکی ستراتیژی دی کوم

چې دهغه وضا حت اود روښا نه کولو لاره چې ولی په دی جګړه کی « بری » نه تر لاسه کيږي اوږده دي .
په دی جګړه کې د امریکی دمتحده ایالاتواو د« نا تو» د کمزورتیا اصلی او ريښتيني دلیل دادی چې امریکا یا نو افغانی جنګ سالاران برمته اوغلا کړي کوم چې دهغوی ملیشی رژیم د افغا نا نو په وړاندی له شخړی اوتا وتریخوالی ډک چا ل چلند ترسره کوی لکه همغسی چی خپله دامریکی دولت د خپلو خلکو په وړاندی تر سره کوی یعنی داسی یو رژیم چی دهغه کړنه غلا ، وژنه اوپر خلکو باندی تجاوز کول دی .
دګریت پورتر (Gareth Porter) له نظره د طا لبا نو داما رت په ما تولو کې د متحده ایالاتو اهداف اومیتود نه ښا یی چې یو لنډ مها له وه اوداځکه چې طا لبا نو تر یوه حده پوری د جنګ سالارانود جنسی خشونت اودهغو دناامنا سب له د ښمنيو ډک چلن دځواب اود واکنش په ورکولو سره واک ترلاسه کړل.
د طا لبا نو [ سا زما ن ] دافغا نستا ن دجنوب د خلکودنا خوښی اودناهيلو په ځواب کی په کال (۱۹۹۴) کې را څرګند شوکوم چی دکندهارولایت دڅلوروجنګ سالارانوتر مینځ ویشل شوی وه او په هغه ولایت کی وضع ډیرخرپړشوی وه لکه پر ښځو او نوی تنکه ځوانا نو با ندی جنسی تیری ، چور چپا ول ، اختطا ف ، په غیر قا نونی بڼی سره داخاذی (جزیه)اخیستل اود داسی نورنا سموچا ل چلند دله مینځه وړلوپه منظورطا لبا نو دیو عدالت پسند ځواک په توګه سر راپورته کړ اود ګڼو پرګنو د ملاتړ په بنیا د واک تر لاسه کړل او په پای کې بی د کوم سخته جګړی د افغانستان پلازمینه کابل تر خپل ولکي لاندی راوستل اود جنګ سالارا نو دواک ټغر يې دافغانستان څخه ټول کړل .
پر افغانستان باندي د کا ل (۲۰۰۱) د یرغل اود تها جم له وخته دامریکی دمتحده ایالاتو جنګ طلبو حلقو د خپل پلان او د علاقمندی په لرلوسره افغا نی جنګسالاران اودهغو رهبران اومشران یی یو د بل په مخا لفت اوضد یت کی سره د خپل مرکزی کنترول په خاطر واچول اودهغو ځنی غوره کړ شوی کسانو سره د هغو دلا ځواکمن اوپیاوړي کيدو مرسته ترسره کړ اوځنو ته دا موقع او چا نس ورکړ چی په سیمه کی والیان او ستر قوماندانا ن او فرماندها ن شی اودهغوی ځنی نور کسا ن یی د (سی آی اي ) په تورلست کی شا مل کړ- اما ددغه ستراتیژی له مخي د جنګسالارانو د ملیشو څخه دګټی دترلاسه کولوجریا ن ته دوام ورکړ اوداځکه چې په هغه وخت کې بی له دي ملیشو څخه بل هیڅ یو کوم داسی بشری ځواک موجود نه وه چی په هیواد کې امنیت وسا تي یعنی نه داچی یواځی دافغانستان دتولنی امنیت وسا تی بلکه دامریکی اود«نا تو» د منسوبینو دپا ره هم کومه بله بشری ځواک نه ترسترګو کید ل چی دهغوی امنیتی چا رو ته یی پا م اړولای وایی .
دامریکی دمتحده ایالاتو اودایتلاف پر ځواکنو باندي دافغانستان دپولیس اود پوځ د شنه نیلی د بریدونو پيښی لکه د تیرومیا شو په تیره میا شت کی دری امریکایی سرتیری خپل

ژوند دلاسه ورکړل چې شا يد د هغه اصلی دليل د همغه ستراتيژی (دجنګ سالارانو له مليشو پواسطه سره دامنيت تامينول ) پا يلی وی – اما يوه بله ارزښتناکه مطلب دادي چې اوس دځنو راپورونو له مخی طا لبا نو د افغا نستا ن دپوليسواود پوځيا نوپه مينځ کی هم نفوذ کړي دي ، سر بيره پرهغه اوس په هلمند او کندها رکی دترياکوڅخه دګټی تر لاسه کوو موضوع دتولنی دهر غړی دوسوسی اود تشوش زمينه رابرابر کړی لکه چې دغه موضوع په يوه مقا له کي داسی توضيح شوی :

« هغه دوه ولايتونه کوم چې په هغه کي د شنې رنګ څخه آبی رنګه (پرامريکايی اودايتلاف پرسرتيرو با ندی د ا فغا نستا ن د پوليسو اود پوځيا نو حملی اوبريدونه ) زيا ت حملی ترسره کيږي هغه د هلمند اود کندها ر ولايتونه دي اوداپخپله تصا د فی هم نه دی اودا په دي مفهوم چی طا لبا نو په دغه دوه ولايتونو کي قوي او ځواکمن دی – اما هغه څه چی د لته د يا دوني وړ دي هغه دادي چی په دي دوه ولايتونو کي دکوکنا رو له حده زيا ت کشت او کرکيلنه ، شورشيا نو ته د ما لی له نقطی نظره ډير ځواک اوقدرت ورپه برخه کړی دي . »

سره له هغه چې اوس پر امريکا يی سرتيرو با ندی دافغانستان د پوليسو اود پوځيا نو يرغل او بريدونه کم شوی دی (اوهغه هم په افغانستان کي دامريکی دقوتونو دشمير په راتيتيدو سره ) اما دبيلا بيلو مختلفو ګروپونو اودهغو داستا ذ و د ګټی مسله د منطقی په سطح کی په يوه پيچلی د عنکوبتی ځا لی په څير سره اړين شوی دي .

دامريکی دمتحده ايالاتود نا سم اود نا کا می ستراتيژی اودهغه څخه دخپل دشکست او نا کا می له اعتراف څخه ډده کول اوس د افغا نستا ن دجګړې دتنظيمونکو په نظا می اوغير نظامی امريکا يی پلويا نو کي ګونګسی را پا رولي کوم چې ددی دوه عا مل له يوځای کيدوسره يومهم اواصلی عا مل تر لاسه کيږي اوهغه داچې ولی د دي جګړی د ختميد وهيڅ يو نښی اونښا نی نه ترسترګو کيږی داهغه څه دی کوم چې **ګرات پورتر** (Gareth Porter) د جګړی ضد راديو د کوربه ښاغلی **سکوت ها رتون** ( Scott Horton ) سره په مرکه کی پر دی مسله با ندي رڼا واچوله :

دا هغه څه دی کوم چې هر يو ددي ښاغلو (کسا نو) د جنګ په کا بينه کي په يو ډول ډيرشد يد چرخش سره پا نګوني کوي اوپه دي هيله دي چې هغوی وړلی اويا وړونکي شوی دي يا داچې هغوی دتونل په انتها کي رڼا ويني ځکه چې هر يو دهغوي په دغه موضوع کی سره پيچل شويدي کوم چې دهمدی ډلو کسا نو څخه يو هم دامريکی دمتحده ايالاتو ددفاع وزير (ما تيس) دی چې په جګړه کي اصلی کس منل شوی يعنی هغه کس چی دجنګ (دمتحده ايالاتودوسله والوځواکونو دقوما ندی اداره چې په مينځنی ختيځ کي دمتحده ايالاتو نظامی عمليات تر سره کوی = CENTCOM) په وخت مسول او ريس وه اوهمدارنګه **ماک ما ستر** ( دامريکی دملی امنيت اوسني مشاور) چی د (۲۰۰۹) اود

(۲۰۱۲) کلونو په موده کي دجنرال **دیوید پټریوس** اود (اوباما) دزیا ت فشا ر په تر سره کولو سره هغه د فسا د د مینځه وړلو مسو لیت پر غا ړه لرل – همد ارنګه تا سی دلته دهیواد د داخلی امنیت مسول ښاغلی کیلی (Kelly) هم لری کوم چي هغه په ظاهر کی په بشپړه بڼی سره ترتا ثیر لاندي پریوتی دی یعنی هغه کس چی دهغه ځوی دهلمند په ولایت کي دجنرال پټریوس دپوره ځواکمنی په زما ن کی خپل ژوند دلاسه ورکړ اوس هغه په هیڅ بڼی سره اراده نه لری چي دخپل باارزش اوقیمتی نه جبرانونکی پا نګي په دلاسه ورکولو با ندي اعتراف وکړي اویا په دی مورد کي د ملاحظی وړ دلیل څرګند کړی – دبلی خوا څخه دانفورد(Dunford) دامریکی دټولو ځواکونودمرکزی ستاد لوی درستیزیا هغه کس چي دافغانستان دجګړی ددوام مسولیت پرغاړه لرل - ټول هغه کسان اوښاغلي دي چي خپل ټول شیا ن که چیری ومنی چي دلاسه ورکړي دی دلاسه ورکوی.

ښاغلي ګا رت پورټر (Gareth Porter) په دی موافق دی چی د جګړی دپا ره دلته یو لړ ځنی نور عوامل هم وجود لری چي په ظاهرکی د جګړی د نه ختمید و اود نه بریالیتوب نښی تر سترګو کوي اوهغه عوامل عبا رت دی له :

دامریکی د متحده ایالاتو د افسرانو د ندی اود ورسپا رل شوی دندو د مخکی وړلو مسله دفرماندهی داداری وندی اخیستوموضوع کوم چي د(سی آی ای) دلویو پروګرامونو دمخکی وړلو دامکا نا تو په لرلو سره په نښه شوی وه ټول هغه سیا سی لګښتونه او هزینی دي کوم چي په لمړی سرکی بیهوده او ناقص وه - سربیره پر هغه مسله ، داسی وه چي پنټاګون او (سی آی ای) په دی سره جوړ جا ړی یا سره تعهد کړي وه چي دافغانستان دفضا څخه په استفا دی سره تر هغه وخته پوری چی ممکن وی مونږ به په پاکستان کي به دبی پیلوټو الوتکو په بمی ګذ اریو سره ګټی به تر لاسه کړو یعنی خپل ټاکلی هدفونه به لاسته راولو.

هغه یو کلمه چی له څه مودي څخه را وروسته دافغان درواني شخړی په اړه کارول کیږی هغه د« بن بست» کلمه دی کوم چي وروسته د(۱۶) کلونوجنګ ،طالبانو وتوانیدل چی تقریباً دافغانستان (۴۰) په سلو کی سیمی او خا وره ترخپل کنترول لاندي راولي هغوی یعنی طا لبا ن خپل انډیوالان اومتحدان هم لری لکه د حقا نی شبکی چی دپاکستان پواسطه سره ملاتړ کیږی او پا کستا ن سره دهغه چي دامریکی د متحده ایالاتو یو متحد هیواد دی خو بیاهم د تروریستا نو او افراطی ډلو ټپلو د پاره دامن ځای دی یعنی چي د تروریستا نو پناهګاه او پټن ځا یونه همدغه د پاکستان خا وره دی.

دلته یوه مهم یادونه دادی چي که چیری ټول شیان په خوښه سره ښه مخکي لاړ شی ( کوم چي په سمه توګه یقینی هم نه دي) نو په احتما لی بڼی سره ددی امکان شته چي سمد ستی ځلور ځلی زیاتوالی را مینځته کړی « دغاړی یو اوږد دردناک نیکټاي» دغه نیوکي ممکن پر هغو باندی وي کوم چي هغوی په دی هیله اوانتظار کی دي چي

یو ناڅا په زیاتوالی تفاوت او توپیر مینځ ته راولي اوپه شدت سره شخړیز کیږی – اما ستونزی اوسوالونه په افغانستان کی دادی چي دامریکی د متحده ایالاتو په دخا لت سره له هغه څه چي موپورته بیان کړ ستونزی ډیر ژور او پراخ دی .

**درغلی ، دلاسه ورکونه (ضا یعا ت) اونا وړي ګټي اخیستنه:** په افغانستان کي دامریکی دمتحده ایالاتو په لاسوهنی سره کوم چي په دواړوخوا کی یعنی هم په افغانا نو اوهم په امریکا یا نوکی دفساد اودورځنی باطله حاکمیت اوچال چلند کچه دومره زیا ته شوی چي په یوه قابل دملاحظی حد سره پیسی دخطر په معرض کی ولویدلی دی او دبلی خوا څخه دا اوس بربنډ شوی چي دافغانستان په دغه روانه جګړه کی تراوسه پوري د امریکی دمتحده ایالاتو دما لی ورکونکو پیسی تقریباً تر یوه تریلیون دالرلګول شوی او ددی پیسو څخه سربیره (۱۱۷) ملیارد ډالر دافغانستان دبیا رغونی دپاره ورکړ شوی وه چي دغه پیسی باید مصرف شي په هرصورت داسی په نظر راځی چي که چیری دغه پیسی دحکومتی قراردادونو په چوکاټ کي مصرف شوی وای نو په هغه صورت کی ددی احتمال موجود وه چي دغه جګړه پای ته رسیدلای وایي لکه همغسی چي راین کراکر (Ryan Crocker) په افغانستان کی دامریکی دمتحده ایالاتو پخواني سفیر وایی:

« زمونږ اخری ناکامی اوشکست زمونږ دهڅو اوداند کوم شورش نه وه بلکه دغه ناکا می دهیواد په دننه کي دفسا د دوزن او د کچي زیا توا لی وه »

سرچینه: د(21) پیری تا ر «wire»

**جان سوپکو(John Sopko)** د ا فغا نستا ن د بیا رغوني لپا ره ځا نګړی عمومی پلټونکي «سیګا ر =SIGAR » په افغانستان کي د بیا په رغوني با ندي دلګول شوی پیسی د نظا رت په اړه کا نګرس ته د خپل د ری میا شتنی چمتو کړشوی راپور وړاندي کړ اوددی راپور څخه داسی معلوم شو چي په تیرو کلونو کي د سیګار ځنی موند ني یو

څه ساه نیونکي (نفس ګیر) وه دبیلګي په بنه : سیګار دخپل پلټنو په جریان کي وموند چي دافغانستان په پوځ کي تقریباً (200000 ) خیالی سرتیری ثبت نام شوی کوم چی دهغوی معا شونه دامریکی دما لیی ورکونکو له پیسو څخه د لوړ پوړو مفسدو چاروکو په جیبونوکی ولویږي اویواځی ددی خیالی سرتیرو نومونه په کاغذ کی ترسترګو کیږی حال داچی دوی له یو سرغا یب دي اویا داچی دهغه ګا ز ستیشن (station ) دجوړولو دپاره چي تخصیص ورکړ شوی وه - دهغه پیسی دلګښت اسناد هیڅ په لاس کی نشته او پنتاګون دهغه پیسو په اړه هیڅ کوم معلومات نه لری یا هغه (۲۸) میلیون دالر کوم چی دافغانستان دملی امنیت دسرتیرو اومنسوبینو ته ددریشی یا دالبسی دپاره ځا نګړی شوی وه هغه پیسی یی په ځنګلونوکی دسرتیرو دستر اخفا په نوم لګول شوی وه حال داچي خپله افغانستان تقریباً تر (۲۱) سلنه په ځنګلونو پوښل شوی یو هیواد دی .

دوه کا له دمخه په افغانستان کی دبیارغونی دپاره (۳۵) ملیارد دالرپه مصرف رسیدلي وه اما ددی پیسو دمصرف اسناد اویا دهغه صورت حساب دمسولو مقاماتو له خوا دپلټنی مسولینو (سیګا ر) ته چا مخکی نکړ اویا داچی دهغه پیسو دمصرف سندونه جعلی اویا د «سیګا ر» د نظا رت کونکو له نظره سم او قا نونی نه وه او یا داچي ګڼ پروژی د منل شوی اویا د قراردادشوی مشخصا تو سره همغا ړیتوب او مطا بقت نه لرل – نو د همدی نا سم چلن په نظرکی نیولو سره امریکا یی مالیه ورکونکو ته داپوښتنی را پیدا شوی چي دهغو پیسي بیځایه لګول شوی اوهغوی ته دا سوال هم را پیدا شوی چي مونږ به تر څو پوری دافغانستان دبیارغولو د پا ره ما لیی ورکړو لکه هغسی چي (Sopko) وایی څوک – څه او ولي :

مونږ په افغانستان کی د ما رشال پلان په پرتله کوم چي اروپا مو ددوهمی نړیوال جګړي څخه ورغول ډیر پیسی لګولی یا ډیر زیا ت ځا نګړی شوی بودجه مو ور لیږدولی دی اود ا فغا نستا ن درغولو دپاره د امریکی د متحده ایالاتو ما لیی ورکونکی مجبور ګرځول شوی وه چی با ید د ا فغا نستا ن درغولو د پا ره (۱۱۴) میلیا رد دالر برابر او ځانګړی کړي نواوس دامریکی مالیه ورکونکي دا حق لری چی دخپلو مسولو مقا ما تو څخه پوښتنی وکړی چي دهغوی پیسی دکوم پروژی د بیا په رغولو کی لګول شوی اودچا تر نظا رت لاندی داپیسی په مصرف رسیدلی دي .

په یاد ولری چي «سیګا ر» یواځی د بیا رغونی ما لی برخه ترخپل نظارت لاندی نیسی او ددی څخه نظا رت کوی چی دامریکی کمکونه چیری او په څه ډول دافغانستان په بیا رغولو کي لګول کیږی دغه موسسه هیڅکله له هغو پیسو څخه هیڅکله نظارت نه کوی کوم چي دجګړی په اړه تسلیحا تی اوتجهیزاتی شیا نو (بمونه ، ټانکونه ،الوتکي او.......) باندی لګول کیږی .



دامریکې د سمند رې قوواو  يوه سرتيرى  دهلمند په ولايت کې دګزمې وهلو په حال کي (CPL, John M.  Mc Call ,USMC: Wikicommons)

**دترياکو په اړين يولړ پوښتني :** له هغه وخته يعنی له کال (۲۰۰۱)  څخه  چي دامريکې دمتحده ايالاتو پوځيان  پرافغانستان باندی  يرغل او تيری کړی دی  دترياکو توليد  په افغانستان کي ډير زيات شوی دی  سره دهغی چی دترياکو دتوليداتو  ريښتينی او صحيح اندازه کول  يو څه ستونزمن  اوغير ممکن دی  مګر بياهم  په افغانستان کی دملګرو ملتونو ځا نګړي اداره  دتريا کو  دتوليد اندازه  اوهغه  سا حي ځمکه کوم چي د ترياکو د کرکيلنی د پا ره ځا نګړی کيږی   کال په کال   خپلو اړوندو ادارو ته  ګذارش ورکوی نودملګروملتونو ددغه ځانګړی اداری له خوا  دکال (2015-2016)   راپورکی داسی ښودل شوی  چي په افغانستان کي  دترياکو دکرکيلنی دپاره  ډيری ځمکی ځانګړی شوی وه (له «18300 »څخه تر «201000»  هکتاره ځمکه) او هم په  همدغه ګذارش کی دا هم را په ګوته شوی وه چي د تريا کو مجموعی حاصلات اويا توليد  په همدی کال کي له (۳۵۰۰) ټنه څخه تر (۴۰۰۰) ټنه پوری رسيدلی وه کوم چي (۴۳) سلنه زياتوالی را ښيي .

علاوه په پورتنيو يادونو څخه دذکر يوبل وړ مطلب دا چي دترياکو دمزارع اود فصلونو دله مينځه وړلودپاره  (8,5) مليارد دالرپه مصرف رسيدلي وه  کوم چي د کال (۲۰۱۵) څخه تر(۲۰۱۶) پوری دهغه پورتني ځا نګړی شوی پيسی تر(۹۱)  سلنه کم په مصرف رسيد لی وه يعنی د مخکينی طرح کړ شوی پروګرام له مخي چي با يد (۳۷۶۰) هکتا رد خشخا شو کروندی او فصلونه  له مينځه وړل شوی وای  يواځی (۳۵۵) هکتا ر دترياکو فصلونه له مينځه  تللی وه – اودهمدی پروګرام په بلی کولوسره بياهم  دترياکو حاصلات

تر (۳۰) سلنه پورې زیاته شوې وه (یعنې په هر هکتارځمکه کې له (18,3 kg) تریاک (23,8 kg) پورې ، اوهمدا راز په ډاګه شوې وه چې هغه اندازه ځمکې چې په کال (۲۰۱۶) کې دتریاکو دکرلو دپاره ځانګړې شوې وه هومره اندازه ځمکه وه چې دتیرو درې کلنو دټولومجموعې ځمکو په پرتله زیاته وه اوداځکه چې دملګرو ملتونو ځانګړې اداره پر تاریاکو باندې نظارت او څارنه له کال (۱۹۹۴) څخه پیل کړې دي .
افغانستان په نړۍ کې دتریاکو دتولیدولو تر ټولو لوی تولیدکونکې هیواد دی کوم چې درارسیدلې احصایو اوارقاموڅخه داسې په لاس راغلې دی چې افغا نستا ن دنړۍ (۹۰) سلنه هیروین تولیدوی .

Figure 1: Opium poppy cultivation in Afghanistan, 1994-2016 (Hectares)




*Sources: MCN/UNODC opium surveys 1994-2016. The vertical lines represent the upper and lower bounds of the 95% confidence interval.*

**دنشه ای توکو په وړاندې جګړه ؟**دامریکې دمتحده ایالاتودنشه ای توکوپروړاندې جګړه د یولړرغنده تنا قضا تو او اختلافا تو سره ککړ او مخا مخ شکا رې ، اما هغه څه چې حقیقې اوریښتیا نې دي هغه دا دي چې دامریکې د متحده ایالاتو سرتیرې اود هغه هیواد دمخد ره موادو د مبارزې داداره (DEA) استا ذې په یو داسې هیواد (افغانستان) کې مستقر اوځای پرځای دي چې ددې (۱۶) کا لو د جنګ اود جګړې په اوږدو کې د نړۍ د بازارونو د ضرورت (۹۰) سلنه هیروین برابروې ا ویه دی هیواد کې هرکال د تریاکو په تولید کې زیاتوالې اودهغه د له په مینځه وړلو کې کمښت ترسترګو کیږي یا داچې شاید مونږ هغه څه چې وینو زمونږ دانتظار سره توپیر ولرې اوبیا په ځانګړې بڼې سره که یو څوک هره ورځ په کور ، اودهیواد په سرتاسر کې د هیروین اودتریاکو د مشتقا تو خبرې اوګذارشا ت اورې .

دامریکی دمتحده ایالاتو دحکومت د عامه روغتیا یی اداری (CDC) دراپور پر بنیا د په امریکا کي د مخدره موادو له حده زیا ت مصرف سره د(۲۰۱۴) او (۲۰۱۵) کلونو په موده کي دمړینی میزان (۱۶) سلنه ته اوچته شوی یعنی د هیروینو زیا ت مصرف د (۲۰۰۲)څخه تر(۲۰۱۳) کلونوترمینځ واټن کي څلوربرابرښودل شوی دي ( اوپویید ونه «Opoiod» هغه دواګا نی دی چی هغه له مخدره موادویعنی تریاک څخه مشتق شوی دی لکه مورفین اوهمدارنګه ځنی مصنوعی توکي لکه اوکسیکودین (oxycodone) ، یا فینتانیل (fentanyl) کوم چي دغه دواړه وروستنی مصنوعی دواګاني په امریکا کي په ډیرسرعت سره یولړ ستونزی رامینځته کړی دي - البته دا باید ووایو چی دامریکي په زندانونوکی دنیشه ای توکودغیرقانونی جرم لپاره کوم یوداسی لیګ (Legion) نشته چي خلکو ته دمخدره موادوداختلالاتو اوله هغه څخه د راولاړشوی شخړیز عواقبو باندی پوره رڼا واچوی .

دلته فرضیه داسی دي چي دهیواد په دننه کي له یوخوا نړی ته د(۹۰) فیصده هیروینو دعرضه کولو موضوع اودبلی خوا څخه دهیروینو دمصارفا تو دلوړیدو اودهغه څخه د مړینی دزیاتوالی په هکله هیڅ کوم روښا نه ارتباط اواړیکي نه تر سترګو کیږی چي دا پخپله بی له تا سف او حما قت څخه بل کوم شي نه دي .

دیادونی بل مطلب داچي دجولای په میاشت کال (۲۰۰۰) کی طالبانو دملګرو ملتونو په همکا ری سره د تریاکوکرهنه په افغانستان کي ودرول کوم چي دهمدی دلیل پر اساس وه چي د تریا کوحاصلات په کال (۲۰۰۰) کی ډیررا ټیټ شواو دمخدره موادو دسیا ست په مجله کي دغه موضوع دیو علمی مقا لی په نشرولو سره داسی لنډ یز شوی دي :

افغا نستا ن د(۱۹۹۰) لسیزی را هیسي دنړی دغیر قانونی هیروینو د عرضه کولو اصلی سرچینه بلل شوی اوهم د(۲۰۰۰) له وروستیاوله هغه څخه په وروسته کال کي طالبانو دتریاکو کرهني باندی بندیز ولګول اودتریاکو د له مینځه وړلو اوریشه کن کولو دپاره تیولو کروندګرو ته ګواښ وکړ چي هرچا د دی منع کړ شوی امرڅخه سرغړونه وکړی او تریاک وکری هغه ته به ډیر سخته سزا ورکول کیږی اوپه دی صورت هغوی وتوانیدل چي دخپل تر لاس لاندی سیمو کي دتریاکو تولید تر (۹۹) په سلو کي ټیټوالی راولی اودهغو ددی اقدام په نتیجه کي د تریاکو کشت او کرهنه ډیر زیا ت را ټیټ شو اوپه دی توګه دنړي په سطح کی دتریاکو دکرهنی میزان (۳۵) اودهیروینو په عرضه اومصرف کی (۶۵) سلنه ټیټوالی راغی مګر دطالبانو له نسکوریدو څخه بیا له سره دکوکنارو حاصلات لوړ شو اوخپل مخکینی سطح ته ورسید – نو دلته باید په ډاګه شی چی دا دطالبانو دزمامدا ری یوه ډیرموثر اقدام وه کوم چي هغوی ترسره کړي وه .

که چیری یوڅوک په افغانستان کي یواځی دامریکی دمتحده ایالاتو ښکیلتا ته پام شی نو دلیدلو په پیل کي هغه ته شا ید دا تصور پید ا شي چي امریکی په ا فغا نستا ن کي

د مخد ر ه موادو په وړاندې دجګړې عزم اوهد ف نه لرې اوداځکه چي هلته امریکا یې سرتیرې دتریاکو په مزرعه کې ګزمې کوې اودهغوې دموجودیت سره سره د هر کا ل په تیریدوسره د تریاکوتولیدات زیاتیږي داهغه څرګندونه دې کوم چي دامریکې دسمندرې ځواکونو معاون ډګروال ګیرالدو ریبیریا (Geraldo Rivera) ته په ښکاره ډول سره داسې توضیح و کړ .

« مونږ دافغانستان دکروند ګرو دپا ره د خشخاش دکرهنې دپا ره فارمونه اوځنې نور لازم شرایط برابرووددهغوی مصونیت نیسواودهغوی له منابعوڅخه هرارخیزساتنه کوو»

په هرصورت افغا نستان یواځنی مثال اویا بیلګه نه دی چي په هغه کي دامریکې متحده ایالات دمخدره موادود قاچا قچیا نوڅخه سا تنه کوی په دی برخه کي **ابی مارتین** (Abby Martin) داسی توضیحات ورکړ :

په کال (۲۰۱۲) کي دمکزیک دلوړپوړو مقاماتوڅخه یوکس له جیورز(Juarez) څخه الجزیره ته وویل : چي دامریکې دمتحده ایالاتو د(سی آی ای) سازمان او نور امنیتی بین المللی سا زما نونه د مخدره موادو د قاچا قچیا نو سره مبا رزه نه کوی بلکه دهغه پرځای دغه سا زما نونه هڅی اوباند ترسره کوی تر څو چي د مخدره موادو څخه ښه مد یریت وکړي لکه هغسی چي په پنځوسم لسیزه کي دامریکې د(سی آی ای) سا زمان دچین په وړاندي د **تایواني** جنګیا لیو په روزنه کي دطلای مثلث له لاری دمخدره موادو قاچاق ته سترګي په لاره وه یا دنشه ای توکو قاچاق ته قابو وو همغسی چی **ویایام بلوم** (William Blum)پخپل تالیف شوی کتاب کی تر ( Rogue state "A Guid to the world's only Superpower) عنوان لاندی په دي اړه داسی یا دونه کړی دي.

« دامریکی د (سی آی ای ) سا زمان د سهیلی ختیځی آسیا له سرتا سره څخه تریاک په خوندی ځایونو کي په هیروین سره اړول اوبیا دغه تر لاسه شوی هیروین یی دمختلفو انتقا لی لارو څخه خپل غربی مشتریا نو ته لیږدول .»

دا دنورو جلا پیښو څخه یوه پیښه دي کوم چي د امریکي د (سی آی ای) سا زما ن داتیاوم لسیزي په موده په نیکاراګوا کي د کمونیستی دولت ضد مخا لفینو څخه ما لی او لوجستکي ملاتړ کول کوم چی تول له یوسره دمخدره موادو بین المللی قاچاق وړونکی وه -دفرانسی دمخکینی جمهورریس استاذي ران پاول (Ton Paul) دیوګروپ محصلینو سره دایران په اړه د بد نا م (سی آی ای) د فسا د اود ډار په مورد کی خبری وکړ اود (سی آی ای) بد نا م څیره یی راوڅیړل .

د مخد ره موادو قاچا ق ، قاچا قچیا نو ته د طلا د معد ن په څیر اهمیت او ارزښت لری او غواړی چی دنیشه ای توکو د پیسو په لاسته راوړلو سره دخپل پټ (ترځمکی لاندی ) دولت هغه پروژی پکا ر واچوی چي په مشروع بنی سره پکار نشی اچولی – له بلی خواڅخه اوس تولو ته معلوم شوی چی دامریکی د(سی آی ای) سازما ن د مخد ره

موادو دراکړی ورکړی  په فعا ل سا تلو کی  ډیرفعال ونده لری - مونږ  په تلویزیون کی د[ ایران – ضد]  ولید ل  چی دوی  وسلی اومخد ره توکي با رپه تیلرونو کی راکشول.
دلته په پریکړنـي بنی سره یولړسوالونه را پورته کیږي اوهغه داچي دامریکی د متحده ایالاتو مسولو مقا ما تو با ید چي د مخد ره موادو د تجا رت اودراکړی ورکړی  په اړین غوخ ځوابونه ورکړي  اما د افغا نستا ن دتریا کو د تولید د مسلی یوه بله اړخ چي دنورو ارزیا بي او تحقیقا توپه پرتله د ژورخیړنو وړ بلل کیږی اوهغه دافغا نستا ن  دخشخا شو په  تجا رت کي د چین د شکیلتیا موضوع دي  اوهغه داچي در راسید لی راپوررونو څخه داسی راڅرګند شوی دي چي  **چینا یا نو د کوکنا ر اصلاح شوی تخمونه  د ا فغا نستا ن دکروند ګرو  اوبزګرانو په اختیا ر کی  اچوی**  اودا هغه تخمونه دی چی دهغی په کرلو سره افغانی بزګرانو ته داسی آسا نتیا وی برابروی  چی هغوی د کلنی حاصلاتو په هره دوه میا شتو کی د کوکنا رشیری (حاصل) راټولولی شی  **- د(سی ان بی سی =CNBC )** آژانس  ددی کا ل  د ما رچ په میا شت کي داسی راپور خپور کړ  چی د تریا کو اصلاح شوی چینیا یی تخمونه په چین کی  په قا نونی بنی سره د دوايي   مستحضراتو  د ترلاسه کولو او د جوړولو د پا ره کرل کیږي کوم چي دغه تخمونه په یو اویا بل شکل افغانستان ته قاچاق کیږی .بی ویلو دی پا تی  نشي چي  تیره میا شت (21 WIRE)  د ا فغا نستا ن د تریا کو د تجارت  په اړین د یکشنبی د ورځی  په سریا لونو کي  خپل  ننداړچیا نو ته یولړ مستند  فلمونه وښودل .
**ا فغا نستا ن او امپراتوري :** په هرصورت  ددی پوها وی  د ترلاسه کولو د پا ره چي  ننی جوړونکی نړیوال امپریالیزم افغا نستا ن ته څنګه ګوری  یوه ځانګړی موضوع دي نود دی  موضوع  د روښا نه  کولو د پا ره  مونږ لازم  وګڼل چي خپل لوستونکو ته د(global research TV)  د جمیزکوربرت (James Corbert) هغه فوق العا ده  دهغه پواسطه سره جوړ کړ شوی وید ویی فلم خپور کړو باید په ډاګه شي چي ښاغلي **کوربرت** په دی ویدو یی فلم کي په روښانه بنی سره داسی توضیح ورکوي اوهغه داچي دلته  لوی تاریخی اوجیوپولیتکی شرایط  وجود لری  کوم  چي   په ا فغا نستا ن  کي د ننی شخړی درامینځته کید و سبب شوی دي .
**یاداشت** : له دی نه چي ددی ویدو اصلی محتوی دپښتو په متن کي دیولړ بدلونونو سره مخامخ نشی لازم مي وګڼل چي د هغه  دری ژبا ړه لوستونکوته وړاندي کړم ....دوکتور (مل)

***این وید یو شواهدی را در مورد اینکه چرا 11 سپتامبر  نمیتواند  دلیل واقعی حمله آمریکا به افغانستان باشد، فراهم می کند و چه چیزی باعث می شود که کشور به لحاظ ژئوپلیتیک و ژئواستراتژیک  با ارزش  و بسیار مهم  میباشد.  موضع***

***افغانستان به عنوان تنها عا مل اصلی تولید تریاک در جها ن، کشور را در سطح جهان بسیار قابل توجه ساخته است ؛ با توجه به ارقام سازمان ملل از سال 2010، بازار مواد مخدر در سراسر جها ن به ارزش 65 میلیارد دلار است، اگر چه رقم واقعی امروز می تواند به میزان قابل توجهی بالاتر با شد. یکی دیگر از عوامل بسیار مهم که افغانستان جا یزهٔ اقتصا دی جذاب را دارد ، چیزی است که در زیر زمین قرار دارد؛ افغانستان علاوه بر مقدار قابل توجهی از نفت و گاز، همچنان ثروت فراوان از مواد معد نی ما نند آهن، مس، کبالت، طلا و لیتیوم دارد که ارزش آن بیش از 1 تریلیون دلار است. بیایید تجدید نظر خود را به عنوان محل بالقوه برای خطوط لوله انرژی نیز فراموش نکنیم.***

*باید په ډاګه شي چي په دي ویدو کي ښاغلي* ***کوربت*** *په روښا نه بڼی سره توضیح کړي او هغه داچي دلته د لوي تا ریخي او جیوپولیتیک شرایطو د موجودیت له کبله دافغا نستا ن ننی شخړی را مینځته شوی دي - کورربت د خپل توضیحا تو په روند کي د* ***ها لفورډ میکند ر*** *(Holford Mackinder) او د* ***زبګنیوبرژنسکي*** *(Zbigniew Brezezinski) ژیو استراتیژیکی توضیحا تو ته په اشا ری سره وایي چي ا فغا نستا ن په مینځنی آسیا کی دیومهمی سیمی په توګه دختیځ اودلویز اوپه نها یت کی دتول نړي د نوی لوی لوبی* ***(New Great Game)*** *د جګړی په مرکز کی پروت هیواد دي .*

*آیا مونږ باید په واقیعت کي له دی هر یو پیښی سره متعجب او هک ویک شو او هغه داچي سره له هغه چي هولی اوډ* ***(Holly Wood)*** *دامریکی دفرهنګي برخي دپاپ یو اصلی رسانه دي یعنی د امریکی دموکرات ، آزادیخواه او د بین المللی تولني له نظره دقناعت یو وړ تولنیز رسنی یا میدیا دي نو په دي اساس د (21WIRE) لوستونکي ته به پام شي چي دغه انځور عمدتاً یو افسانه دي ، اندریوبسیوچ (Andrew Bacevich) دبوستون په پوهنتون کی تاریخ لیکونکي محقق پخپل وروستي مقاله کي لیکلي دي :*

*د«قواعدو پر بنیا د نړیوال نظم» مفکوره له بیخه سره نقض شوی دی او هغه داسی را څرګندوي :[ د لیبرال بین المللی پلویا نو(internationalist) په نوم د یا دولو وړ نشتوالی په مینځ کي دمتحده ایالاتو دتیر پالیسی دمقرری نسخه داسي دي: په بهرنیو تاکنو کي لاس وهنه ، په ایران ، کولمبیا ، کا نګو ، کیوبا ، سهیلي ویتنام ، چیلي نیکاراګاوا اونړو هیوادونو کی کود تا ګا نی اودزعماو وژنه اوترور – په شمالی کوریا اودسهیلي آسیا په سرتا سر کی د بی پیلوتو الوتکو پواسطه سره د بمونو غورځول دارمیګا د ون (Armegadon) ، د نما رک ته د ا تومی وسلی د راوړلو مسا بقه د خپل خوښی اودګوډاګیو رژیمونو څخه ملا تړ لکه په ایران ، ترکیه ، سودان ، سهیلی کوریا فلیبین ، برازیل ، مصر ، نیکاراګوا ، اوپه ځنی نورو ځا یونوکی دخپل هدف درسیدو په مقصد اړدوړوته لمن وهل او د خپل غیرقا نونی فعا لیتونو د ترسره کولو د پا ره د ملګرو ملتونود پریکړي په مقا بل کي د خپل* ***ویتو*** *د رای د حق او امتیا ز په لرلو سره سرغړوني کول، نا سم تعصبا ت ،غیر قا نونی کړني ، تعقیب ، شکنجه ، د اشخا صو اودافرادو غیر قانونی حبس او زندانی کول تول هغه څه دي چي دامریکی د متحده ایالاتو ددولت اودلوړپوړو مقا ما تو له خوا تر سره کیږي البته متحده ایالات د هغه څه*

پوري ځا ن اړ نه بولی کوم چي رسنی څه ووايی اوهغه داچي دا « د ځنی وخت د پاره دي » نو په افغانستان کي جګړه کوم استثنا يی جګړه نه دي بلکه يوعمدی او په لاس جوړ کړ شوی جنګ دی چی لاتراوسه دوام لري .

---------------------------------- **په درنا وی ( ۲۰۱۷-۷-۲۴ )**